# International Organization for Migration




# د منفعت یا سود پرته پورونو کړنه (NILS)

## د پور کړني په اړه

د مهاجرت لپاره نړیوال سازمان د سود پرته سفري پور فنډ وړاندیز کونکو سره مرسته کوي چې د هغه مهاجرینو د سفر لګښت وپوښي څوک چې د لمړنۍ یا سبکلاس 202 ویزې سره آسټرالیا ته ننوځي.

نوموړی فنډ د سفر لګښتونو تر 75٪ پورې چمتو کوي، چې باید ستاسو د کورنۍ یا ملګري آسټرالیا ته په رارسیدو سره بیرته ورکړل شي.

تاسو سره د سفر لګښت کې مرسته کولو سره سره، IOM ستاسو د کورنۍ یا ملګري آسټرالیا ته د سفر دمخه، په جریان کې او وروسته مشورې او ملاتړ هم چمتو کوي.

پدې ملاتړ کې ممکن مرستې شاملې وي، چیرې چې امکان ولري، آسټرالیا ته د وتلو آسانتیا لپاره د ضروري اسنادو لاسته راوړل، او د ټرانزیټ په ډیری ځاینو کې د ځانګړي شوي کارمندانو شتون ترڅو د پروازونو ترمنځ لیږد څخه اطمینان او اسانتیا برابره کړي.




## څوک برخمن دی؟

د مهاجرت تنظیماتو لپاره د نړیوال مخکښ سازمان په حیث IOM، په ایدال توګه ځای په ځای شوی ترڅو وړاندیز کونکي آسټرالیا ته د سفر کولو ترتیباتو کې د لوژیستیکي اندیښنو له پلوه ملاتړ کړي، او د مهاجرت او پولو محافظت وزارت سره په اړیکه کې، د سبکلاس 202 ویزې لرونکي وړاندیز کونکو د مالي لګښت اسانولو ته ځانګړي شوی.

که ستاسي کورنۍ یا ملګري ته د سبکلاس 202 ویزه ورکړل شوي وي نو تاسي برخمن یاست چې د سود پرته پور لپاره غوښتنه وکړئ.

## زه غوښتنه څنګه وکړم؟

د غوښتنلیک فارم ډک کړئ:
http://www.iomaustralia.org/PDF/DetailSheet.pdf.

تاسو به اړتیا ولرئ چې لاندې اسناد ورسره ضمیمه کړئ:

1. له هغه ډلې څخه یو لیک چې غوښتونکی حمایه کوي او د پور موډې پرمهال د IOM سره په اړیکه کې وي
2. د هغه لیک یوه روښانه کاپي چې ښیې د سبکلاس 202 ویزه ورکړل شوې

کله چې ستاسو غوښتنلیک بشپړ شو، نو لاندې پتې ته یې ولیږئ:

**IOM Canberra**
**PO Box 1009**
**CIVIC SQUARE ACT 2608**

یا **02 6257 37 43** ته یې فکس کړئ

## د پور بیرته ورکولو لپاره څوک مسؤل دی؟

وړاندیز کونکی یا د 202 ویزې لرونکی د بشپړ، په ټاکل شوي وخت چوکاټ کې د پور بیرته ورکولو لپاره مسؤل دي.

موږ د پور دوراني کړنه یو، او موږ پر خلکو تکیه کوو چې خپل پور ژر تر ژره او د غوښتنلیک پروسه کې لاسلیک شوي اسنادو مطابق بیرته ورکړي، نو پدې سره به فنډ بیرته راټول شي او آسټرالیا ته سفر کونکو نورو کورنیو سره به د مرستې جوګه شي.

راتلونکي به اړ وي چې یو تصدیق لاسلیک کړي چې ممکن د پور بیرته ورکولو لپاره به دوی مسؤل وي که چیرې وړاندیز کونکی یې انتخاب کړي.

## زه پور بیرته څنګه ورکړم؟

پورونه د Centrelink's Centrepay Deduction سیستم له لارې دوه هفته ایې قسطونو کې بیرته ورکول کیږي. کله چې ستاسو د سفر لګښتونه تایید شول نو IOM به د بیرته ورکړې یو مهالویش وړاندیز کړي.

د بیرته ورکړې مهالویش بدلیدی شي که چیرې وړاندیز کونکی یا د هغې ملاتړې ډله IOM ته د څرنګوالي بدلون په اړه ووایي.

IOM په کلکه د فی سفري ډلې په یوځل بیرته ورکړې تکیه کوي، خو که چیرې اخیتسل شوی پور له 3000.00 ډالرو څخه ډیر وي نو تاسو ته به د بیرته ورکولو په څو برخو انتخاب درکړل شي. هر غړی به اړ وي چې د سند یو نوټ لاسلیک کړي چې ښیې دوی د خپل (او/ یا د دوی اړوند ماشومان) سفر لګښتونو بیرته ورکړې لپاره مسؤل دي.

که چیرې د پور بیرته ورکوونکی نور د Centrelink ګټې لاسته نه راوړي، دوی باید ژر تر ژره IOM سره اړیکه ونیسي ترڅو ورته د بیرته ورکړې یو بدیل میتود ترتیب کړي.

IOM • OIM

# International Organization for Migration

## د یوه غوښتنلیک ملاتړ کول

مهم ده چې یو وړاندیز کونکی څوک چې د IOM پور لپاره غوښتنه کوي یو ملاتړی او پیژندل شوي ملاتړ ډله ولري.

د یوه وړاندیز کونکي لپاره د ملاتړ ډلې په حیث کار کولو په واسطه، ستاسو اداره څخه به تمه کیږي چې لاندې خدمات چمتو کړي:

- له وړاندیز کونکي سره مرسته وکړي چې IOM ته د پور بشپړ غوښتنلیک وسپاري.
- پدې راضي وي چې د IOM سره په اړیکه کې وي او وړاندیز کونکي یا راتلونکي ته د IOM ټولو مراسلاتو تشریح کولو مسؤلیت په غاړه واخلي مخکې لدې چې د دوی لاسلیک وګوري او IOM ته اصلي اسناد بیرته ورکوي.
- د IOM سره د پورورکولوترآخره پورې اړوند هرې مسلې باندې اړیکې سره موافق وي.
- د وړاندیز کونکي یا راتلونکي سره تعقیب ته موافق وي چې پور په بشپړ ډول او د وخت سره سم ورکړې څخه اطمیینان لاسته راشي.
- د وړاندیز کونکي یا راتلونکي د پتې یا تلیفون شمیرې بدلون په صورت کې IOM ته د ویلو سره موافق وي.
- د وړاندیز کونکي یا راتلونکي په حالت کې د کوم بدلون په اړه IOM ته خبر ورکولو سره موافق وي، په ځانګړي ډول هغه مهال کله چې بیرته ورکوونکی نور د Centrelink ګټې لاسته نه راوړي.

موږ ټول اداري او سازمانونه هڅه وو چې خپل پیرودونکي ته د ملاتړ وړاندیز کولو دمخه ترڅو د IOM سفري پور ته لاسرسی ولري، پورتنۍ لارښوونې ولولي. که تاسو فکر کوئ چې ستاسو اداره پدې کچه خدمات نشي وړاندې کولی، نو مهرباني وکړئ د وړاندیز کونکی بل اداری ته راجع کول په پام کې ونیسئ.



## زه څنګه IOM سره اړیکه نیولی شم؟

که تاسو نورې مرستې یا معلوماتو ته اړتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ د IOM Canberra سره اړیکه ونیسئ.

تلیفون: **02 6267 6600**

بریښنالیک NILS@iom.int :

## بیا ځلې پوښتل شوي پوښتنې

**د پور لپاره غوښتنه کولو ته څوک برخمن دي؟**

ټول هغه غوښتونکي چې د SHP ویزه (سبکلاس 202) ورکړل شوي وي د پور غوښتنې لپاره برخمن دي. که چیرې یو وړاندیز کونکی نا تصفیه شوی پور ولري، نو دوی یې برخمن ندي.

**د یوه پور تصدیق کول څومره وخت نیسي؟**

کله چې IOM د غوښتنلیک فارم، د ویزې تضمین لیک او د یوې ټولنیز اداری څخه د ملاتړ لیک لاسته راوړ، نو تصدیق له 24 ساعتونو څخه لږ وخت نیسي. مخکې لدې چې بوکینک ترتیب شي 25 سلنه پیسې باید IOM ته ورکړل شوي وي.

**د 25 سلنې پیسو ورکړه څنګه کیږي؟**

د پیسو ورکړه د IOM نومول شوي حساب ته د بانک چیک، مني اردر یا په څانګه کې پیسې په واسطه په مستقیم ډول ورکول کیږي.

**د بیرته ورکړې لپاره د وخت چوکاټ څه شی دی؟**

مهمه ده چې بیرته ورکړې په منظم ډول سرته ورسي. په ډیری حالتونو کې د بیرته ورکړې دوره 24 میاشتو ته برابریږي.

**سپانسران به کله نهایی لګښت لاسته راوړي او کله باید بیرته ورکړه پیل شي؟**

د ښودل شوي لګښتونو چمتو کول به د IOM سره ستاسو د غوښتنلیک راتلو په 48 ساعتونو کې پیل شي. نهایی لګښت به آسټرالیا ته د کورنۍ رارسیدو څخه وروسته میاشت کې ولیږدول شي. بیرته ورکړه به هغه مهال پیل شي کله چې Centrelink ګټو لپاره کورنۍ راجیستر شي.

**وړاندیز کونکی به کله پوهه شي چې کورنۍ رارسیدلې؟**

IOM به د بوکینک توضیحاتو او رارسیدو معلوماتو سره په مستقیم ډول د وړاندیز کونکي سره اړیکه ونیسي یا د هغوی ملاتړ کونکي ډلې له لارې کله چې په اړوند بهرني دنده کې بوکینک سرته ورسي.

**آیا په نړیوالو او آسټرالیایی هوایی ډګرونو کې د پور ګټه پورته کونکو لپاره د ټرانزیټ مرسته شتون لري؟**

په ډیری نړیوال هوایی ډګرونو کې د ټرانزیټ مرسته شتون لري غیر له هغه هیوادونو چې IOM پکې شتون ونلري. IOM د SHP ویزه لاسته راوړونکو لپاره د ټرانزیټ مرسته نه چمتو کوي کله چې آسټرالیا کې وي.

**هغه وګړي چې د فارم ډکولو کې د لیک لوست وړتیا نلري نو IOM ورسره څنګه مرسته کولی شي؟**

د دا ډول مسالو لپاره لمړی UNHCR سره اړیکه وشي. که اړتیا وي نو IOM د نور لوژیستیکي ملاتړ چمتو کولو کې مرسته کوي.